۸ـ مجاهد دجهاد راز او امرونه باید پټ وساتي.

۹ـ مجاهد په شپه کښې لکه دورځې په شان بیدار وي اوددښمن نه خبر وي.

۱۰ـ مجاهد ددښمن په مقابل کښې جدي اوپر مجاهد وورونو باندې مهربانه وي.

۱۱ـ مجاهد دې دخپل موجوده سلاح په تکتیکی اوتخنیکي خواصو باندې ښه وپوهیږي.

۱۲ـ مجاهد دې دخپلې موجوده سلاح نه کار واخلي اوبې له خدای (ج) نه دي پرهیچا باندې تکیه نکوي.

د مجاهدینو د عملیاتو لپاره مهمې ښښې

مهمې ښښې د مجاهدینو د عملیاتو لپاره د جهاد په وخت کښې عبارت دی له:

۱- د ښمن د قواوو د مرکز ونو معلومول اولاس ته راوړل .

۲- د ښمن د تلوار اتلولارې پرې کول .

۳ - د ښمن د تیلفون د لینونو پرې کول .

۴- د ښمن د برښنا ، مخابرې او استیشنونو لینونو له منځه وړل .

۵- د ښمن د سلاح کوټو او مرمیو پیدا کول او یا له منځه وړل .

۶- د ښمن لوبستون د منځه وړل .

۷- د ښمن د هوائي برګرونو او پلونو له منځه وړل .

۸- د اطلاعاتو د کارکونکو او پیغام وړونکو نیول .

۹- په کلیو او ښارونو کې د حزبي دفترونو موندل .

۱۰- د ښمن د وسلو د کوکارو انونو، مرمیو او داسې نورو شیانو لاسته راوړل .

۱۱- د ښمن د کدرونو او حزبي فعالینو له منځه وړل .

د ځیړیالی جګړې خاصیتونه

۱- د یرغل، تیښتې جګړې ته چریکي جګړه وایي.

۲- چریکي جګړې او ټولې جګړې دي او مسلمان چریکان د خلکو د مرستې او همکاري څخه بې برخې نه وي.

۳- هیڅکله مجاهدین خپل چریکي عملیات د دښمن د قوا او وسره مخامخ سر ته ونه رسوي.

۴- مسلمان چریکان دې هڅه وکړي چه خپلې اړتیاوې دې په جګړه کښې د غنیمت او حلال مال څخه لاس ته راوړي.

۵- په چریکي جګړې کښې د له ایز عملیات د وړې جګړې څخه شروع او وروروره په لویو جګړو بدلیږي.

۶- چرکي جګړه یوه متحرکه جګړه ده چه ثابت مورچل نلري.

۷- هغه وخت د مجاهدینو چریکي ډلې باید پر دښمن باندې ګزارونه وکړي چه د دښمن پوه نه وي او جګړې ته تیاري ونلري.

۸- د مسلمانو چریکانو قوماندان باید د اسلامي اخلاقو خاوندان وي.

د قرارگاه غوره کول اود هغه خصوصیات

قرارگاه (تمرځای) عبارت د مجاهدینو د مرکز څخه دی چه مجاهدین د هغه ځای نه خپل جهادی او محاربوی فعالیتونه په دله ایزه او منظمه توګه سرته رسوي . چه مقصدئ د ځان ساتل او د خپل واک پراخول، د دښمن شړل اوله منځه وړل دی .

جګړه بی د مرکز نه نشي کولای چه دیر وخت دوام وکړي او نه به قدرت ولری تر څو پراخوالی تینګښت پیدا کړي ، په واقیعت کښې قرارګاه د دله ایزو جګړو وکلک ملاتړ لپاره شمیرل کیږی .

د مجاهدینو د قرارګاه سیمې په عمده توګه په درې دوله دی :

۱ - غرنی مرکزونه .

۲ - دشتی د صحرائی ، مرکزونه .

۳ - د ځنګل لرونکو ځایونو مرکزونه .

زمونږ خوږ وطن یو غرنی هیواد دی په دې اساس دله ایزی جګړې په غروڼو کښې په خاصه توګه د دښمن د جبهې تر شا پراخوالی پیدا کړي .

دشتي مرکزونه دجګړي دپراختيا په وخت کښې بايد هيرنشي.
بايد وويل شي چه ددشتي مرکزونو جوړول کوچنی ډلي ته دلږې
مودي لپاره وي اوهغه ته ښه پاملرنه وشي.
په عمومی صورت دښمن دښول شووځايونو دساتلو لپاره په ډير
ويرونکی ډول دمجاهدينو پر مرکزونو باندی يرغل کوی په دې صورت
کی مجاهدين لږی ددشتی مرکزونو اوپس له هغه نه دخپلو پټو
مرکزونو ساتل اودښمن يرغل په شاوتنبوي د غرنی مرکزونو اهميت
له نورونه پيردی.
دمرکزونو دجوړولو لپاره دغه ټکی بايد دنظر لاندې وښول شي:
۱- مرکزونه دنظامی چاپيريال اوډمال دښد ولولارونه لري.
۲- مرکزونه داوبو ښد ولوځای ونلري.
۳- مرکزونه بايد په ځنګلونو، ونو، نيالګيو، بوټواوپه وښوپټ وي.
۴- مرکزونه دتلواوراتلو لارې ولري.
۵- مرکزونه دخلکوسره اړيکې ولري.

۶- دهغه ساتل بايد ښه وي.

۷- مرکزونه زغره لرونکووسايطودنوتلوځخه په امن وي.

۸- د مرکزونوځايونه بايد په غرونوکښې وي.

۹- د دغسې مرکزونود درلودل دمجاهدينوپه تينګښت کې ډير ارزښت لري.

د مرکز ونو ډولونه

عموماً مرکزونه په دوه ډوله دی:

۱ـ ګرځنده مرکز.

۲ـ ثابت مرکز.

الف ګرځنده مرکز:

دهغه مرکز څخه عبارت دی چه مجاهدین دلږ بې مودې او ددښمن دګوزار دمخ نیولولپاره په لږ مرحله کی ټاکي.

ب ثابت مرکز:

دهغه مرکز څخه عبارت دی چه مجاهدین د همیشه لپاره ټاکي. ثابت مرکز باید دخلکوله خوا ملاتړ ولري منطقی آرامې وساتي خوراکی موادو، جګړه ایزو اونظامی تعلیماتو دساتلولپاره خاصه پاملرنه ولري.

ثابت مرکز ونه پرځلورو ولوویشل شوي دي:

۱ـ اصلی ثابت مرکز.

۲ـ فعلی ثابت مرکز.

۳ـ د مرستې ثابت مرکز.

۴ـ پټ ثابت مرکز.

دلمړی فصل پوښتنې

۱ـ جهاد پرځونه وله دی؟ نومونه یې واخلی.

۲ـ د ژبې جهاد بیان کړی.

۳ـ مالي جهاد څه ګټه لري؟

۴ـ د جهاد فضیلت بیان کړی.

۵ـ مجاهدین باید دکومو صفتونو خاوندان وي؟

۶ـ د چریکي عملیاتو د موضوعې په باره کښې معلومات ورکړی.

۷ـ د چریکي جګړې خصوصیت بیان کړی.

۸ـ د مجاهدینو د قرارګاه تاکلو د خواصو په باره کښې رڼا واچوی.

۹ـ په عمومي ډول د مجاهدینو مرکز ونه پرځونه وله دی بیان یې کړی.

دوهم فصل
نظام

د نظام تعریف: د مجاهد ینود هغه معلومه شوي خای څخه عبارت دی چه د قوماندان د امر په واسطه د معلومشوي (منځ او مسافې) اود قوماندان له خوا ورته ویل کیږی.

نظام پردوه ډوله دی:

۱- جمع نظام.

۲- تیت نظام.

جمع نظام:

هغه حرکتونه دي چه په تعلیمی مرکز واود هستوګنی خایونو ته رسول کیږی:

تیت نظام:

هغه حرکتونه چه د جګړې د عملیاتو د پرمختګ د پاره پرځمکه (اراضی) باندی اجرا کیږي د تیت نظام په نامه یادیږي.

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

جهاد درې ډوله دی

۱ـ لسانی جهاد.

۲ـ مالی جهاد.

۳ـ جسمی جهاد.

اودمغه ثبوت دغه حدیث شریف دی: ابوداود نسائی فرمایی چه حضرت رسول اکرم (ص) فرمایلی دی:

جَاهِدُوا الْمُشْرِكِينَ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ وَأَلْسِنَتِكُمْ

جهاد وکړی د مشرکانو سره په خپلو مالونو، نفسونو او خپلو ژبو. د نبی (ص) په دغه حدیث شریف کښې په معلومه توګه همدا درې ډوله جهاد ته اشاره شویده.

په دې اساس عزت مند وعالمانو جهاد په ویش کې دغه حدیث شریف په نظر کې نیولی او پیروي ئې کوي

زنځیر خپور نظام :

د مجاهدینو تیتیدل په منځ د ۴-۸ متر و اویا ۸-۱۲ قدمو د زنځیر خپور په نامه یادیږي د مجاهدینو ترمنځ د ځمکې د عوارضو له کبله منځ زیاد او کم کیدای شي .

زنځیر خپور نظام د تلفاتو اود ښمن د اورلرونکې وسلو د تاثیراتو د کمولو لپاره د مجاهدینو د ترصد اولرې کید ود موانعو او اورکولو په وخت کښې یو بل نه نیول کیږي .

د مجاهدینو د لې د حرکت په وخت کښې د قوماندان د قوماندې اواشارې په واسطه زنځیر خپور نیسي .

قوماندې : په دې لفظ ګروپ زنځیر خپور اویا د ما پسې زنځیر خپور ، بولی

اجراکول :

د قوماندې بوله اوریدلو اویا د اشارې په وخت ، ټول مجاهدین یو د بل سره اوبل د کینې خوا نه په مسافه د ۴-۸ متر اویا ۸-۱۲ قدمو یو د بل نه لرې کیږي .

د مجاهدینو تولیدل د زنځیر څیر د حالت نه د ریوستو لیک،
په توګه د قوماندې او اشارې په واسطه اجرا کیږي.
مجاهدین د مینې وهلو په واسطه خپل ځای په یوستو
لیک کښې نیسي.

اراضی

د اراضي تعریف :

اراضی عبارت دځمکی د سطحی هغه شکل اوجوړښت څخه دی چې جهادی عملیات په هغه باندې اجرا کیږي .

د جهادی عملیاتو د پرمختګ لپاره د اراضی اهمیت :

د مجاهدینو اود بښمن د قواوو د فعالیتونو په رقم ، محاربوی نظام او د وضع الجیش[1] معلومولو لپاره اراضی یو ضروری عنصر دی .

د ځمکی څخه په دقت ګټه اخیستل :

اراضی په پیړۍ سنه توګه استعمالیدل دوسلو ، واسطې اودقواو لپاره زمینه برابروي . اود مخامخ لوري اثر کموي . د قوي ، واسطي د تاوان دله منځه وړلو لپاره به یوه اندازه اثر ولري .

---

(۱) وضع الجیش = د مجاهدینو وضعیت

پرله پسې د جهاد تاثیر د پاره په هر ډول عملیاتو کښې د جګړې
د ترتیب او تنظیم لپاره د ټولونه مخکښې د اراضی لیدل همیشه باید
په نظر کښې ونیول شي .

د اراضی لیدل :

د اراضی عارضي ځایونه د خپلې ګټې او د دښمن د تاوان د پاره د اراضی د لیدلو په نامه یادیږي.

عموماً اراضی په دوه ډوله لیدل کیږي :

۱- د اراضي لیدل د خریطې له مخې :

د وخت او شرایطو د لرلو په اساس اوکه په کار کښې تلوار نه وي
اراضی د خریطې له مخې لیدل کیږي .

۲- بالذات لیدل د اراضي د اراضی له مخې ،

په دې توګه عملاً اراضی ته تلل او هغه له هر خوا څخه لیدل د غه
ډول لیدونه بالذات لیدل د اراضی وایي .

دبالذات اراضي د ليدو طريقه (د اراضي د مخې):

د د پ د پاره د کشف د پې اويا قوماندان له يوه يا څو نقطې څخه چې د هغه ځای نه اراضي وليدل شي د نژدې نه لرې اودکيدې نه ښې خوا اراضي تر داسې قيمت ورکړي چې له چيرې د وسلو د مرچلو د ول د ول ځايونه جوړول د نژدې کيدو لورې ته، د اوسيدلو ځايونه، د کمين د ښولو ځايونه، د مينونو د هوارولو اوښخولو ساحې،، د د ښمن د اوسيدلو ځايونه اوهم د د ښمن د نژدې کيدو احتمالي لارې په اراضي کښې معلومې کړي.

معلومداری نقطی

لورې څیری، معلوم داری اراضی اوودانی چه سنه لیدل شي د معلومداری نقطي (نیرنګی نقطی) په نامه یادیږي.

د بارزي نقطی داستعمالولوځایونه:

۱- دهدفودبیان (سنودل).

۲- دهغومجاهدینوته چه دارتباطولپاره مؤظف شوي دي.

۳- دجهادپه عملیاتوکښې، دمساحی، وظیفی اومسؤلیتونو د معلومولولپاره.

۴- د اراضی دلورې معلومول.

د اراضی دابادی له مخې بارزی نقطی به په لاندی ډول وی:

۱- غزه لرونکی اراضی:

په غزه لرونکی اراضی کښې بارزی نقطی دغه لاندنی آبادی کیږی شي.

الف- دهغه ځګی اولورې نقطی. ب- لورې څوکې اومعلوم داره کانی.

ج- د سیند یوه برخه، ویاله، جلګه اود غزه خوه رونه. د- د سړک یوه برخه، لاری، په غزونو کی نرګلاری. هـ- هستوګن ځایونه

یوه برخه، ځنګل اودغره ځڼي څوکی

۲- په صحرا کښی :

الف - غونډې. ب - کانالونه. ج - خوږونه . د - څاګانی. هـ - کلی، جماتونه. ز - پلونه اوسړکونه .

۳- په ښارواواوسید ونکو ځایونوکی :

په ښارواواوسید ونکو ځایونوکشې بارزی نقطې، دغه ځایونه کیږای شی:

الف - جماتونه. ب - معلومداړې کوڅې. ج - لوړې ودانی. د - برجونه. هـ - پلونه اوسړکونه . و - دولتی مشهوری ودانی (لکه شفاخانې، ملګتونه اوداسی نور)

۴- په شپه کښی دبارز نقطی معلومول :

الف - په شپه کښې پټ ندل شوي ودانی . ب - داراضی هغه ودانی چه دهوا خواته رسم شوی وي . ج - هغه اوبه لرونکي ځایونه چه لیدل کیږی .

د - دکلیو هغه روښانه نقطی هغه کورونه دی چه دخراغونو رڼایی ښکاري.

دبارزې نقطې نه دګټې اخیستلو طریقه

دټولونه مخکښې بارزی نقطی په فکراویادخریطې پرمخ دښی نه کیښی اودټرډ نه لرې ته معلومی اونمره ئی ووهی . پس له دې دنقطی دځایودګټې نه نیرنګې نقطې پیدا هدف بیان اویا که هرشی موغوښتی وي .

ترصد

تعریف: د اراضی عملی لیدل، د دښمن لپټول، په خپل وخت او زمان خپلې لیدنې خپل مربوط قوماندان ته خبرورکول د ترصد په نامه یادیږي.

د ترصد اهمیت:-

د افغانستان د جهاد په سنګرونو اوهم په نور وجګړو کې لکه څنګه چه ستر ګی اوغوږونه د ژوند له پاره ضروري دي په همدې ترتیب د جهاد ی عملیاتو د پرمختګ لپاره ترصد هم اهمیت لري. دغه د ترصد عمل د ی چه د مهمې وسیلې د سرته رسولو په حیث، مجاهد په مرحلې کښې، توپچی په انداخت اوبولې وال د قرار (تصمیم) په نیولو سره مقصد ته رسوي.

مترصد: مدرک، پوه او تجربې لرونکی مجاهد چه د ترصد لپاره مؤظف کیږي د مترصد په نامه یادیږي. د هغه ځای نه چه مجاهد ترصد کوی د ترصد ځای په نامه یادوي. باید وویل شي چه ځای د ترصد لکه موچرل، سپر، اوستره ولري.

مترصد په دوه ډوله دی:

۱ـ ځمکنی مترصد. ۲ـ هوایی مترصد.

د ځمکنی مترصد وظیفه:ـ دوی د ځمکې د ترصد د پاره وظیفه لري چه ترصد یې وکړی.

د هوایئ مترصد وظیفه:ـ د هوائی خطونو د ترصد د پاره تاکل شوي دي. د ترصد په عملیه کښې، د مجاهدینو وروستنو، د نورو مجاهدینو ډلې، حرکتونه لیدل او د اسی نورشیان هم ورسره شامل دی. مخکښې اراضی د دښمن نه چې او د نژدې نه لری ته ترصد وکړي هغه لیدل شوي شیان بی د لید و د قطع کید و د ترصد[1] داشارې په واسطه، د مخابری اوازه، ارتباطی کسانو اویا د ضرورت او بیرته تلو په وخت قوماندان ته خبر ورکوی د ترصد راپورلیدنې اوکتنې تحریري اوشفاهی هم کیدای شي راپور د اسی ترتیب شي چه مطلب ئی د غه شیان وی: کوم شی؟ په کوم حالت؟ څه وخت د چاله خوا ترصد شوی دی. یو مترصد مجاهد بی له چل وسلی اومرمی نه لاندې شیان هم د ترصد د پاره ځان سره ورلی شی.

۱ـ توری عینکې، ۲ـ قطب نما (پوصله)، ۳ـ دوربین، ۴ـ کاغذ، قلم، پاکټ خریطه او د اسی نورشیان د ضرورت په اساس.

---

(۱) د ترصد اشاري: عبارت دی د یوې سلسلې د سلاح، لاسوحرکات او د اسی نور.

پروت

پروت یو محاربوي حرکت دی چه دارام سی له حالت نه اجرا کیږي دجګړې په عملیاتو کښې عملاً دهغه څخه ګټه اخیستل کیږي .

پروت د دریو مقصدو لپاره اجرا کیږي :

۱ـ دښمن کو چنیوالی ، ۲ـ ښه ویشتل دښمن ، ۳ـ دمه ینول .

د پروت د اجرا کولو په وخت کښې باید لاندې ملحوظات په نظر کښې ونیسی

۱ـ د وسلې ساتل :ـ د پروت د اجرا کولو په وخت وسلې ته پاملرنه وشي چه پرې بڼې اچمه ونه لګیږي او یا سهوا ګیر نشي .

۲ـ د دښمن ته کتل :ـ د پروت د اجرا کولو په وخت کښې د دښمن د مجاهد له ستر ګونه خطا نشي .

۳ـ ژر پروت :ـ د خطر د پیدا کیدو په اساس د قوماندې په ورکولو سره باید ژر پروت وشي .

۱- دژبی جهاد

دجهاد لومړنی مرحله همدغه دژبی جهاد دی. خدای (ج)
دفرقان په سوره کی چه مکی سوره ده داسی فرمایلي دي:

فَلَا تُطِعِ الْكَافِرِينَ وَجَاهِدْهُمْ بِهِ جِهَادًا كَبِيرًا

ترجمه: متابعت مکوه دکافرانونه اوجهاد وکړه دهغوی سره په قرآن،
په لوی جهاد.

څرنګه چه ذکر شوي سوره مکی سوره دجهاد او
هجرت دفرضیت نه مخکښی نازله شوی ده عالمان سربیره
پردي دغه جهاد دژبې دجهاد په نامه یادوي.
اودهغه په ترجمه کی وائی هغوی سره مقابله وکړی دقرآن لپاره
لویه مقابله.
همدارنګه خدای (ج) فرمایي.

يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَكَ.

پروت په دغه بولی اجرا کیږي:-

د پروت ((بولی)) اویا ویشتلو د پاره پروت (بولی)

اجرا کول: مجاهدین د پروت د قوماندې په وخت کښې وسله په بنې لاس نیسي په بنې پښه یو قدم مخامخ یوه اندازه شی ته اچوي، عین حال کښې ځان یوه اندازه مخی ته لګیږي په کین زنګون ځمکې ته ښکته کیږي او چپ لاس مخامخ پر ځمکه داسې ایښودل کیږي چه ګوتې بنې خواته وښول شي پس له هغه د ځان درولو والی، اول پر چپ ورون او بیا پر چپ مړوند باندې واچول شي پر کین ارخ په ځمکه پروت وکړي ژر نس پر ځمکه ولګوی. پښې یوه اندازه لرې چه سر پنجې یې د باندې خواته وي د ویشتلو د قوماندې نه وروسته د ویشتلو لپاره تیاری نیول کیږي

ش -۱

ش - ۲

ش - ۳

د ولاړسی د حرکت طریقه :

د ولاړسی د قوماندې په وخت کښې دواړه لاسونه د سینې په برابر کې راوړل کیږي په دې شرط چې وسله په شي لاس کې وي په همدې

ش - ۴

ش - ۵

وخت چپه پښه هم ټولیږي . دلاسونو تینګښت په واسطه تټر ژر
د ځمکې نه جګیږي بنې پښه دکینې پښې مخې ته اچول کیږي ،
مجاهد ژر د ریږي او په ټولو لودچې پښې د بنې پښې خواته د ریږي
اووضعیت اساس د وسلې سره لکه چه شکل کښې لیدل کیږي نیسي
اوپس له دې ارام سې اجرا کیږي .

خبرورسونکی

همیشه دمجاهدینو د صفونو د خبرولو د پاره او یو د بل د وضعیت د
د خبریدو د پاره خبرورسونکی دګډ وهلو ځلود ضروریاتو څخه-
شمیرل کیږي. د ارتباط د تیلګرافبنست د پاره له تخنیکی وسیلې، اشاری،
آوازونه، اویرل د مجاهدینو د خبرورسونکی (د ارتباط نفر) په توګه
ګټه اخیستل کیږي د فنی ارتباط موضوع (مخابره) د جهاد دبیل مضمون
په دول ویل کیږي په دې ځای کښې یوازې خبرورسونکی مختصراً پیژندل
کیږي.

د خبرورسونکی بیان:- خبررسان عبارت له هغه مجاهد څخه دی چې
امرونه هدایتونه وړاندیزونه اومشاهدات په تحریري اشفاهی توګه
هغه ځای ته رسوي. په سنګر ونوکښې د مجاهدینو د ډومرکز ونوتر
منځ د خبررسان نه د ارتباط د تیلګرافبنست لپاره د ضروری وسیلی
په توګه ګټه اخیستل کیږي.

د خبرو ړونکی صفتونه:

خبرو ړونکی باید تقوا داره، ذکی، هوشیار، د تجربې خاوند او با جرأته وي.

د خبرو ړونکی کړنلاري:-

۱- په متن، اوامرو، هدایتونو او پیشنهادونو باندې وپوهیږي که شفاهي وي یا تحریري.

۲- که موضوع شفاهي وي هغه دې یوځل بیا د اخیستلونه وروسته خپل سره تکرار کړي تر څو چې غلط اخیستل شوی نه وي.

۳- پټې خبرې دې هم هسې پټې وساتي پرهرچا پورې چې ئې اړه درلوده خبره دې هغه ته وکړي.

۴- د هدایاتو ځایونه وخت، څرنګه، په کوم وخت او زمان، هدایاتو ویل دې په یاد ولري په هغه باندې دې عمل وکړي

۵- خبرو ړونکی باید وپوهیږي چې خبره چا ته؟ په کوم وخت؟ او کوم سنګر ته ورسوي.

۶ـ که په لاره کښې دکوم خطر سره مخامخ شي تحریري راپوردې هرځنګه
چه وي هغه دې له منځه یوسي.

۷ـ مجاهد خبر وړونکی د وسله لرونکی او بې وسلې کیدای شي.

اور

دا ټولې هلې ځلې د دښمن دله منځه وړلو د پاره استعمالول د موجوده وسلې پرهغوی باندې عبارت دی. خدای فرمایلی:

وَاَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ

ترجمه: تیاری ونیسی دکفارو د پاره ترڅوچه قوت لری.

او رسول (ص) قوت ئې دا سې تفسیر کړی دی

اَلَا اِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْیُ، اَلَا اِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْیُ، اَلَا اِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْیُ

خبرداوسی چه قوت دنښې ویشتل دی، خبرداوسی چه قوت دنښې ویشتل دی، خبرداوسی چه قوت دنښې ویشتل دی،

د اور بیان:

اور عبارت دی د هغه موجوده وسلی ګذارونه او پریښه ګیرل د مردکو پرځانداره او بې ځانه هدفونو باندې لکه چه حضرت رسول اکرم (ص) ویلی دی چه اور قوت دی او د هغه قوت د جګړې اساسي واسطه شمیرل کیږي.

هري خواته داورډ ولونه :

۱ـ دجبهې اور : عبارت له هماغه اوښتخه دې چه مجاهدين ئې
دد بسمن مخې ته اودهغوی د هدفونو خواته اجرا کوي .

۲ـ جناحي اور : عبارت د هغه اوښتخه دې چه مجاهدين ئې د
دښمن بنې اوچپې خواته اجرا کوي .

۳ـ دقيچي اور : عبارت د هغه اوښتخه دې چه مجاهدين ئې
د دوخواووښتخه پريو هدف باندې اجرا کوي .

۴ـ خنجري اور : عبارت د هغه اوښتخه دې چه د نژدې مسافې
نه د مجاهدينو له خوا پر دښمن باندې اجرا کيږي .

د عملیاتونه مخکښې د بولې وال پرېښودل

د مجاهدینو قوماندان په هر برتبه او په هر اندازه مجاهدین چه د هغه د بولې لاندې وي هر وخت چه سنګر ته رسیږي جهاد ته دوام ورکوي، په مختلفو شرایطو کښې امکان لري چه د عملیاتو د نده د لوړ قوماندان له خوا ورته ورکړشوی وي او یا خپله په یو معلوم وخت او معلوم داره ځای کښې د عملیاتو د ندې د سر ته رسولو لپاره تیاري نیسي د دې د باره چه ټولې خواوې د عملیاتو د احضارا تو او بیول قرار د پاره تیاري ولري، پخوا د عملیاتو د اجراکولو او یا هغه اجراآت چه د دوی په فکر کښې اصلي موضوعګانې دي په ترتیب سره تحلیل او سر ته ورسوي.

ا ـ د ندې ویل: ـ الف ـ د عملیاتو مقصد څه شي دی.

ب ـ د مجاهدینو نوم پرې څه کوي. ج ـ د خپلې اصلي مقصد د لاسته راوړلو د پاره کومې تبنې باید له منځه ولاړې شي؛

۲ـ د وضعیت تحلیلونه :ـ الف ـ د دښمن د وضعیت (ځایونه، د فعالیتونو خواص او هم د هغوی زور او یووالی ووایو.

ب ـ د اراضی شرطونه، د مختلفو مورچلو د ځایونو معلومول، ښودل د نژدې لارې نه نژدې کیدل د دښمن ته، د مجاهدینو تیریدل د موانعو څخه، ستراحفا او ترصد شرطونه وویل شي.

ج ـ د دوستانو د قواؤ وضعیتونه او د هغه ځای مجاهدین او اور لرونکو وسطو د هرې خواته د وضعې سائل زده کړي.

د ـ د هغې منطقې د خلکو خوښه ووایاست.

د مجاهدینو قوماندان د ذکر شوي موضوعګانو د سنجولو، د ثقیلې وسلې د موثر استعمال او د مجاهدینو لیږل د وظیفې او عملیاتو ته په ښه توګه ورسیږي همدا رو ستنې ښه تیاری د قوماندان قرار د نژدې کیدو څخه عبارت دی.

ترجمه: ای پیغمبره! ورسره خلکو ته هغه څه چې نازل شوي دي پرتا باندې د ستاریب د طرفه (د خدای له خوا) که دغه کار دې ونکړه (هغه څه چې پرتا باندې نازل شوي دي ونه رسولې) نو بیا سرته نه دي رسولې رسالت خپل.

د قرآن د آیت تبلیغ چه په مشروع او غیر مشروع کار ونو دلالت کوي. تول دژبې د جهاد په حساب شمیرل کیږي.

اسلامي کتابونه لیکل، دیني مقالې، د جرایدو او مجلاتو خپرول او د اسلامي احکامو رسول دژبې جهاد پورې اړه لري.

دد وهم فصل پوښتنې

۱ـ نظام بیان کړی او وایاست په خپله وله دی ؟

۲ـ زنځیر خپور نظام بیان کړی .

۳ـ اراضی بیان کړی .

۴ـ مهمې نقطې بیان کړی او په شپږ کښې مهمې نقطې څه دی .

۵ـ ترصد بیان کړی .

۶ـ پروت دخه د پاره اجرا کیږي وایاست .

۷ـ دخبرورونکی صفتونه شرحه کړی .

۸ـ اوربیان کړی او هم ووایاست چه اورد جهت له نظره پر خپله وله دی .

۹ـ دیو مجاهد قوماندان هلی ځلی د عملیاتو د سرته رسیدونه څخه کښې ووایاست .

دریم فصل

ګرانو زده کړونکو په اووم ټولګي کښې د ځینې سپکو وسلو پر زې او شکلونه لکه ټي ټي تفنګچه، میکاروف تفنګچه، کره بین توپک، ۳۰۳ بور توپک، M-1 اته ډزې دوربین لرونکی توپک او S.K.S یو ولس ډزې توپک مو وپیژندلی وی.

په اتم ټولګي کښې د هغوی د اندا ځت د فعالیت طریقه، تخنیکي او تکتیکی خواص لولو.

د ټي ټي ۳۲ تفنګچه (T.T) د تخنیکی او تکتیکي خواص:

لږ وزن لري د هغه وړل او راوړل آسانه دی د اراضي په هر ډول شرایطو او وضعیتو کښې استعمالیږي د دې وسلې تخنیک آسانه دی د دې سره ساتلو په اساس بند شوی نلري.

۱- د تفنګچې وزن ۰.۹۴ ګرامه، ۲ موثر منزل ۵۰ متره، ۳- اوږد والی یې ۱۹۵ ملی متره، ۴- اندازه د سد اورخ ئی خلور عدده دی، ۵- ځایدل د شارژور ۸ مرمی.

(کوکول) اوتیارول د تفنګچي دانداخت لپاره:
جاغور پرقید باندې فشار راوړل اوشارژورد ځایه څخه
وویستل شي. متحرکې ترتیبات شاته کش اودمیل منځ ته وکتل
شي، اوپس له هغه نه جاغور د مرمۍ څخه پاک کړی. دوهم ځل
په څپل ځای کښې ځای پرځای شي اوپس له دې نه متحرک
ترتیبات دی شاته کش کړي. په دې وخت کښې د فنر په
واسطه یوه یوه مرمۍ جګیږي د متحرک ترتیباتو د پریښودو په
واسطه قپاق د فنر ارجاع د قوې په مرسته یوه مرمۍ د ځانه
سره د میل خواب ګاه ته رسوي. اوس تفنګچه کوک شوه او
دانداخت دپاره تیاره دی اوماشې باندې چه فشار
راوړو د ښکیږي

---

(۱) لمړی (T) یې د مخترع دنوم مخفف (توکاروف) او دوهم (T) یې د هغه فابریکې
مخفف دی.
(۲) د مادل نمبر دی.

د میکاروف (T.M) تخنیکی اوتکتیکی خواص:

لږ ورن لري، ورل اوراوړل یې آسانه دی. په هر ډول اراضی اوجوی حالاتو کې استعمالیږي دډې وسلې تخنیکي آسانه دی، که صحیح کار وکړی واخیستل شی نه بندیږي د نژدی فاصلی نه دلاس اوګیروان په جګړې کښې ورځخه ګټه اخیستل کیږی.

۱- چاپ ۹ ملی متره، ۲- اعظمي منزل ۱۳۰ متره. ۳- موثر منزل ۳۵ متره. ۴- عمومی درونده والی ۸۰۰ ګرامه. ۵- د میل ابر دوالی ۹،۶ سانتی متره. ۶- شارژور ظرفیت ۸ مرمۍ. ۷- د مرمی سرعت $420^{m/sec}$.

(کوکول) اوتیارول د تفنګچې د انداخت لپاره:

د شارژور پرقید باندی فشار راوړی اوشارژور د ځایه ځخه راوباسی. متحرک ترتیبات شاته کش اود میل منځ وکتل شی اوپس له هغه نه شارژور د مرمی ځخه پک کړی.

دوهم ځل پرچل ځای کښې ځای پرځای شي اوبیا دي

متحرک ترتیبات شاته کښ کړي په دې وخت کښې د فنر په
واسطه یوه یوه مرمۍ جګیږي د متحرکو ترتیباتو د پریښید وپه
واسطه د قپاق د فنر ارجاع د قوې په مرسته یوه مرمۍ د ځانه
سره د میل خواب ګاه ته رسوي، اوس تفنګچه کوک شوه د
اندا خت د پاره تیاره ده

د کارابین توپک تخنیکی او تکتیکی خواص

کارابین د خفیفه وسلی، ناریه، جارحه، ضربي وهونکی، آوار خوړنښت غیر اتومات څخه عبارت دی. چه دیوکس له خوا — استعمال او وړل کیږي اود سنمن د ځاندار وقواؤ اود نقلیي وسایطو د له منځه وړلو د پاره استعمالیږي. په فاصله د (۵۰۰) مترو د پراشوتو او وتیتی هوائی طیارې د سنمن په مخامخ جګړې کښې هم استعمالیږي

۱- چاپ ۷،۶۲ ملی متری.

۲- موثر څملکنی منزلۍ ۱۰۰ - ۴۵۰ متر.

۳- موثر هوائی منزلۍ ۴۰۰ متره.

۴- د نشانګالوحه یی ۱۰۰۰ متره.

۵- د مرمیو هوایی اعظمي منزل یی ۳۰۰۰ متره.

۶- عمومي درونده والی [illegible] کیلوګرامه.

۷- د توپک اوږدوالی غیږد برچې نه ۱۰۱ سانتی متره .

۸- د برچې اوږدوالی ۳۰ سانتی متره .

۹- د جاغور ظرفیت ۵ مرمی .

۱۰- لومړنی چټکوالی $735\ m/sec$.

۱۱- د سدا اورخ شمیر ۴ عدده .

په عمومی ډول داوسله دوه برخو څخه جوړه شویده :

۱ - د لرګیو برخه .

۲ - د اوسپنی برخه .

د ۳۰۳ بور توپک تخنیکی اوتکتیکی خواص

یوغیر اتومات آوازخوز سنت دی په هرډول اراضی اوجوي حالاتوکی استعمالیږي دیوکس له خوا استعمال کیږی اوکه صحیح استعمال شی نه بندیږي .

۱- چاپ ۷،۶۲ ملی متره .

۲- اعظمی منزل یې ۵۰۰۰ متره .

۳- موثرمنزل ۸۰۰ متره .

۴- مؤثرمنزل یی دتپیتي طیارې پرمخ ۵۰۰ - ۶۰۰ متره .

۵ - دنشانګاه منزیې ۱۶۰۰ متره .

۶- دجاغور ظرفیت ۵ مرمی .

۷- دسد اورخ شمیر ۳ عدده .

۸- دروند والی ۴ کیلوګرا مه .

۹- اوږدوالی ۱۱۷ سانتي متره .

۱۰ـ د برچی اوږدوالی ۴۷ سانتی متره .

پاسنی وسله د د و برخو څخه جوړه شویده ؛

الف ـ د لرګي برخه .

ب ـ د اوسپنې برخه

د M-1 دوربین لرونکی توپک تخنیکی اوتکتیکی خواص

۱- M دوربین لرونکی توپک عبارت له هغه وسلی څخه دی چه دبارودو دگازپه واسطه فعالیت کوي، په یوه پنجگي چه انتمرمی ظرفیت لري پکین پی چه دیوی دستگاه اودوربین لرونکی دی.

۱- د توپک د روند والی د برچی سره ۴،۷۰۰ کیلوگرامه.

۲- د توپک د روند والی غیرد برچی څخه ۴،۴۰۰ کیلوگرامه.

۳- د توپک اوږد والی د برچی سره ۱۳۵،۵ سانتی متره.

۴- د توپک اوږد والی غیرد برچی نه ۱۰۰،۱۰ سانتی متره.

۵- د سد اورخ شمیر ۴ عدده.

۶- اعظمی منزل پی ۴۵۰۰ متره.

۷- مؤثر منزل پی ۵۰۰ متره.

د M-1 اته پرې توپک دوربین:

دوربین د سترگې د شیشې اود هدف د شیشې څخه جوړشوی اوهغه باندی جنبي اوارتفاعي گوتکي د دوربین د صفرکولولپاره ځای

۲ـ ځانی جهاد (بدنی)

د ځان (بدن) په واسطه جهاد کول د خدای (ج) په لار کی ځانی جهاد دی. کله چه د جهاد کلمه بی قید نه ذکر شي د هغه مقصد بدنی جهاد دی چه نن د وسلوال جهاد په نامه یاد یږي.

لکه څنګه چه خدای (ج) فرمایلي ده.

وَقَاتِلُوهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ وَّيَكُوْنَ الدِّيْنُ كُلُّهٗ لِلّٰهِ.

ترجمه: د کفارو سره وجنګیږئ تر هغه وخته پوری چه له منځه ولاړ شي مشرک اودین وی خاص خدای لره.

د کفارو سره جنګیدل مقصد پئ دا دی چه یوازی د خدای قوانین او احکام په جهان کښې عملي شي، ظلم او بی انصافی د ځمکی له مخي نه د منځه ولاړ شي.

نو پرمونږ مسلمانانو باندې لازمه ده چه د خدای په لار کشي جهاد وکړو او د خدای د کلمی د اوچتولو لپاره له هیڅ ډول فداکاری او قربانیو څخه ځان ونه سپمو.

پرځای شوي دي اود دوربين په منځ کښې يو مشعر موجود
دی چې په ښه بانډې تطبيقيږی.

د M-1 توپک تیارول دانداخت لپاره

اول گیټ شاته کش کوو اته مرمی سره له پنجګي سره چه پخوا
ډک شوی ده په خپل ځای چه خوراکه رسان باندې اینبی
د بنی لاس د غټې ګوتې په واسطه پرهغه باندې تر آخره راولوتر څوچه
پنجګی د مرمیو سره خپل ځای ته ورشي او ځای پرځای شي.
پس له هغه د ګیټ قول لږ شاته کشوو او مخې ته خوشې شي په دې
وخت کښې توپک انداخت ته تیار وي.
د دې دپاره چه غیر ارادي انداخت ونشي توپک باید قید شي.
توپک تشکیل:
توپک د قید څخه خلاصوو اوګیټ شاته کش شي په دې وخت کښې لږ
کارتوس شاته الوزي. اوګیټ شاته کلک نیول کیږي د چپ لاس په
واسطه د پنجګی پرانه قید چه توپک کینې خواته ځای لري فشار
ورکوو پنجګی سره د مرمیو باسي. او پس له هغه نه خوراکه رسان
ته فشار ورکړی ګیټ پریږدي د کنترول دپاره ماشه باید کش شي.

S.K.S لس د زې توپک

وظیفه یې:

۱ـ د ژوندي نښې په مخ استعمالیږي.

۲ـ د دښمن د نقلې واسطې پر مخ استعمالیدای شي.

۳ـ د دښمن د پراشوتو پر مخ د استعمال وړ دی.

۴ـ د تیتې هوائي طیارې دیوځای کیدو په اساس په مسافه د ۴۰۰ متروموثر دی.

د لس د زې توپک تخنیکي اوتکتیکي خواص:

وزن یې سپک دی، دیوکس په زریعه دیوځای نه بل ځای ته وړل کیږي.

په هرډول اراضي اومختلفوشرایطوکښې استعمالیدلای شي.

تخنیک یې آسانه دی. که صحیح استعمال شي عارضه به یې کمه وی.

۱- چاپ ۶۲، ۷ ملی متره ۔

۲- شمیرد سد اورخ پي ۴ عدده ۔

۳- د روند والی ۶۸، ۳ کیلوګرامه ۔

۴- اوږد والی پي د برچی سره ۲، ۱۳۳ سانتی متره ۔

۵- اوږد والی پي غیر د برچي څخه ۱، ۱۰۲ سانتی متره ۔

۶- د میل اوږد والی ۱، ۵۲ سانتی متره ۔

۷- موثر منزل پي ۴۰۰ — ۴۵۰ متره ۔

۸- د نشانګاه منزل پي ۱۰۰ — ۱۰۰۰ متره ۔

۹- اعظمي منزل پي ۲۰۰۰ متره ۔

۱۰- د شاربوظرفیت پي ۱۰ مرمی ۔

د انداخت لپاره دلسږ ی توپک تیارول

لمړی دوسلې دامنیت لپاره (په خواب ګاه کښی د مرد کی، نشتوالی
کنترول شي پس له هغه د قپاق ترتیبات د قول قپاق په واسطه
د جاغور په قید کښې ځای پرځای شي او وروسته پنجګی د ځایه
څخه وویستل شی .

د جاغورد ډکولونه وروسته د جاغور قیدته (په دې شرط چه
د بنی لاس په واسطه کلک ونیول شي) فشار ورکړی ترڅو
لاندې خواخلاص او پرماشه باندې فشار راورل او چکش
مخ ته ولاړشي دګیت قول لږ شا تریوسی او هغه پریږدی .

په دې شیبه کښې یومرمی خواب ګاه ته ورلګیږي، او س
توپک د فیر د پاره حاضردی .

کله چه پرماشه باندې فشار راورل شي، خروسک د قید څخه خلاص
او پرماشه باندی ضربه واردیږي او ماشه په خپل وار پرپتاقی باندی
لګیږي او فیر صورت نیسی .

د G.R یوولس ډزې توپک تخنیکی او تکتیکی خواص

تعریف: دیوناریه، جارحه، ضربه وهونکی، آوارخوزښت غیر اتومات اوکم وزنه وسلې څخه عبارت دی چه په هره ډول جوی حالاتو کښې د استعمال وړدی. دیوکس په واسطه وړل کیږي.

د دښمن د نقلې واسطو او د ژوندیو قواوو د له منځه وړلو لپاره استعمالیږی. دغه وسله په عمومی توګه د دښمن تر تاثیر لاندې راولی او د مجاهدینو د قوی ساتونکی ده.

۱- چاپ ۷،۶۲ مترې.

۲- اعظمی منزل ۵۰۰۰ مترې.

۳- مؤثر منزل ۸۰۰ مترې.

۴- هوایي منزل ۵۰۰ـ۶۰۰ مترې.

۵- نښانګاه لوحه ۲۰۰ مترې

۶ـ سدا اورخ ۵ عدده .

۷ـ دجاغورظرفیت ۱۱ مرمی .

۸ـ عمومي اوږدوالی ۱۱۱ سانتي متره .

۹ـ دمیل اوږدوالی ۶۲ سانتي متره .

۱۰ـ وزن ۴،۶ کیلوګرامه .

۱۱ـ دبرچی اوږدوالی ۴۳ سانتي متره .

په عمومي توګه له دو برخوڅخه جوړشوی دی .

الف ـ دلرګیو برخه . ب ـ داوسپنی برخه .

یادونه :

۱ـ داورقید ګیڼی خواته خای لري ،که شاته راوړل شی ، وسله قیدیږي که خروسک ئی نیمه کښ شي وسله بندیږی اوډزنه کوی .

د دریم فصل پوښتنې

۱ـ دتی تی تفنګچی مؤثر منزل څومتره دی اوځرنګه دانداخت لپاره تیاریږی؟

۲ـ د میکاروف د تفنګچی وزن څوګرامه دی اوجاغورځي د څومرد کوظرفیت لري ؟

۳ـ کارایین څرنګه وسله ده اوپه عمومی توګه د څوبرخوځنه جوړه شوی ده ؟

۴ـ د ۳۰۳ په توپک کښې دسداورځ شمیر څودی اوهم وایاست چه د نشانګاه منزل یې څومتره دی ؟

۵ـ د M-1 توپک د تیارولو ترتیب ووایاست .

۶ـ د S.K.S لس ډزې توپک دنده ووایاست .

۷ـ د G.R یوولس ډزې توپک څروسک که نیمه کش شی کومه حادثه واقع کیږی ؟

څلورم فصل

توتې پي د پرسونل ضد مين

Pomz:1 - توتې پي مين هغه مين دی چه دانفجار په وخت کښې ئې توټې انسان له منځه وړي. هغه منفجره مواد چه په دې مين کښې ځای لري (۷۵) ګرامه دی.

د تخریب ساحه یی څلور خواته د ذکر شوي مين د توټې تأثیر (۵) مټره دی. د دې مين وزن ۴۵ اکیلو ګرامه دی او د تاثیر ساحه یې ۱۵ مټره ده.

د هغه مين د فیوز د پن د کشولو په وخت کښې انفجار کوی او که ویر سست وی او یا پریکړ شي که پلکه او پن د ستن څخه ونه ایستل شي مين خنثی کیږی د دې فیوز په منځ کښې پلکه او پن باید وي او که پن او پلکه د فیوز څخه

وايستل شي مين انفجار كوي .



۳ـ مالی جهاد

دخپلی شتمنی په واسطه د خدای پـه لار کښې جهاد کولو ته مالی جهاد وایي.

لکه څنګه چه شتمنی د ژوند او معیشت یوه وسیله ده نو د مال د لاسه د هر چا ول جهاد کښې لازمه ده.

د ژبې په جهاد کښې د کتابونو او مجلو د نشر ولو په مقصد د ورلیږلو او ورلو لپاره له یوځای نه بل ځای ته د مال ضرورت پیدا کیږي او له بلې خوا نه مجاهدینو ته د نفقې پیدا کول ضروري دي چه د هغه نه ګټه واخلي او په وسلوال جهاد کښې د وسلې مرکیو او نورو شیانو اخیستلو لپاره مال ته ضرورت پیدا کیږي له همدې کبله ده چه خدای (ج) په قرآن عظیم الشان کښې جهاد یوځای ذکر کړیدي:

إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ

ترجمه: خدای اخیستي دي له مسلمانانونه ځانونه او مالونه د جنت په عوض معلومه خبره ده چه په جهاد کښې اسلحې، مرمۍ او نورې پرمخ تللی حربی

۲:۱۵-PFM د پرسونل ضد مین :

دغه ډول مینونه د طیارې ، توپونو او راکټونو په واسطه شیندل کیږی.
کله چې دغه مین د طیارې څخه کښته راشي په یوه قطي کښې وی په هوا
کښې قطي خلاصیږي مینونه تړې وزي د دې مین وزن ۷۰ ګرامه دی.
که نیمه کیلوګرامه وزن پرهغه باندې واچوی او فشار ورباندې راوړو
انفجار کوي.
کله چې پرځمکه لګیږي انفجار نکوي ، پس د هغه نه که نیم کیلوګرامه وزن
پرهغه باندې ولویږي انفجار کوي اوکه وزن له دې اندازی نه لږ وی
نه منفجر کیږي.



۳: د پرسونل ضد پلاستیکی مین

دغه مین د پرسونل ضد پلاستیکی مین دی سر پوښ یې ربړي دی
دوه نیم کیلوګرامه وزن که په هغه باندې ولویږي انفجار کوي وزن
یې ۶۰۰ ګرامه دی پوښ یې شین او سر پوښ یې تور ربړي دی.
اوپه هغه کښې کله کله دلوبو میدانونه هم پکښې ایښودل کیږي.



۴: بې توڼې د پرسونل ضد مين:

دا پول مين هغه وخت ابفجار کوي چه وزن د هغه د پټاقې نه لرې کړو. پارچې نه لرې حرارتي ضرر رسوي کله چه پر هغه باندې وزن ايښودل کيږي پټاقې د شعلې لرونکي ځای سره تړي کله چه وزن پورته کيږي انفجار کوي قطر يې ۱۰ سانتي متره دی.



۵: POM 25 - د پرسونل ضد مین

دغه راز مینونه د هلیکوپټر په واسطه انتقالیږي په هر قطعی کښې
خلور مینونه دي د کلي پرسر د بم په ډول ځي غورځوی، کله
چه ذکر شوی مینونه د طیارو په ذریعه ولویدل مینونه په هوا
کښې د قطیو څخه وزي او کله چه محکی ته رسیږي په خپلو
پروبانډې دریږي په همدې شیبه کښې مینونه بانډې دوه
(تارونه) پیدا کیږي کله چه (تارونه) یو دبل سره یوځای شي
انفجار کوي او غورځول شوې صندوق بې د مین نه پرځمکه لویږي.
دوا نولوا او تخریب ساحه یې ۳۰ متره ده که دتوي بادوپه واسطه
ویر وسنوري هم انفجار منځ ته راځي او که تر دری میاشتو
پوری څوک په هغه باندې ونه لګیږي خپل خواص له
لاسه نه ورکوي


هغه قطي چه په هغه کښې څلور
مينونه دي.
مين
مين
مين
تښې قطي
ويږ
ويږ
دمين پرې
هغه مين چه ځمکې ته رسيدلی دی
پرپروباندې درېږي

۶:- MON 200 شارتی مین :

دغه ډول مینونه شارت لرونکي دي چه کمینو نوځنې شارت کیږي او د خرابولو مساحت یې ۲۰۰ متره دی د دې مین وزن ۲۵ کیلوګرامه دی او قطر یې ۵۲ سانتي متره دی د انفجار دپاره یو نیم ولت برق ته ضرورت لري .



۱۷- MON ۱۰۰ - د پرسونل ضد مین :

دغه مینونه په لاروکښې ، د تلوراتلو او په کمینو نوکښې ځای پرځای کیږي نو موږ ې مین شارټي دی د خرابولو ساحه یې ۱۰۰ متره ده قطر یې ۲۲ سانتي متره او وزن یې ۵ کیلوګرامه دی.



۸:- PGMDM - دتانګونواوعرابه لرونکي ضدمین :

دا دول مینونه دراکتو، توپ خانې اودطیارې په واسطه فرش اوغورځول کیږي وزن یې ۹ کیلوګرامه اواوږد والی یې ۳۰ سانتي مترې دی ځګوالی یې ۳،۶ سانتي مترې دی. پوښ اوباندې سطحه یې د پلاستیک څخه جوړه شوې ده.



دتانګونواوعرابه لرونکی ضدمین

د څلورم فصل پوښتنې

۱- POMZ - د توتې پې پرسونل ضد مین د خرابیدو ساحه څومره دی ؟

۲- په اراضي کښې PFM - ۱۵ د پرسونل ضد مین څرنګه فرش کیږی تعرف کړی ؟

۳- په کومه اندازه وزن چې پرسونل ضد پلاستیکی مین باندې ولویږی انفجار کوي ؟

۴- کوم شی د حرارتی پارچې د پرسونل ضد مین د انفجار سبب ګرځی ؟

۵- POM ۲۰ د پرسونل ضد مین باندی څومره وخت تیرشی چې خواص له لاسه نه ورکوي ؟

۶- د MON ۲۰۰ شارتی مین د خرابولو ساحهٔ څومره دی وایاست ؟

۷- MON ۱۰۰ شارتی مین په کومو ځایونو کښې فرش کیږی ؟

۸- PGMDM د تانګو او عرابه لرونکی واسطو ضد مین دغه شی په واسطه فرش کیږی ؟

مأخذونه

۱- د مجاهدینو لارښود انجنیر سیف الله کال ۱۳۵۹ هـ ش .

۲- پرهیزګاري اود جهاد سنګر استاد شهرانی ۱۰/۸/۱۳۰۷ هـ ق کال .

۳- دپلي وسله اود هغه تخنیک د افغانستان د مجاهدینو د اتحاد نظامي کمیته ۲۰/۱/۱۳۶۴ هـ . ش کال .

۴- عمومي تکتیک د افغانستان د مجاهدینو د اتحاد نظامی کمیته ۲۵/۷/۱۳۶۵ هجری اوشمسی کال .

شیانوته اړتیاده چه تولې پیسو په وسیله جوړیږی او اخیستل کیږی.
هغه پیسې او شتمنی چه په دغه لارکی د جهاد لپاره تولیږي
همدغه ټول د خدای په حضور په مالی جهاد کی شمیرل
کیږی.

A 310
B
6-431
DCA
1298
v.76

لمړی طبع
د چاپ شمیر (۵۰۰۰) د چاپ کال: سنبله ۱۳۶۹
د تعلیمی مرکز د نصاب مدیریت

د افغانستان د تعلیمی مرکز د نصاب اهداف

عمومي هدف:

د ټولو جهادی تنظیمونو د تعلیمی نصاب انکشاف اداره د یو متوازن او جامع اسلامی بنسټ ورکول چې د هر ډول باطل پرستی او بدعتونو ضد وي. همدارنګه د اسلامی کلی قوانینو او مفاهیمو استحکام د افغانستان په اسلامی ټولنه کښی غواړی.

خصوصي هدف:

د اسلام سپاهیان او د حقیقت لارې تلونکوته د یو والي او وحدانیت لارښوونه کوي ترڅوچې دوي په مستحکم او دایمی توګه د عالي او معقولو اسلامی سنتو او قوانینو متمسک وي.

د نصاب د اسلامی بنسټونو او سواد، د جهادي، فرهنګي، فلسفی، اقتصادي تخنیکي، مدني، معیشتي شرایطو په نظرکې نیولو سره ضامن دی.

چې په عین وخت کې د ننه شلیدونکي پیوستون ممثل او اتصالات د اسلامي نړۍ سره وي او د اسلامي مقدسو حقایقو مبین وي.

آخري هدف:

د کلمة الله اوچتوالی، د اسلام د شان او عظمت بنسټ د نړیوالو ته، د کفر او کمونیزم اضمحلال، په افغانستان او نړۍ کې د سپیڅلي قرآن د اصولو او قوانینو او د محمدی (ص) غوا شریعت د حنفی فقه په اساس خاص د خدای د رضا د حاصلیدلو په نیت د زمانې د طاغوتیانو سره مبارزه د دی تعلیمی نصاب آخري مرام دی.

د جهاد فضیلت

إِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ وَالْقُرْآنِ ط. (۱) سورة التوبة

ترجمه: بیشکه خدای اخیستي دی له مسلمانانو څخه د هغوی مالونه او نفسونه ددې دپاره چه هغوی لره جنت دی، جګړه او جهاد کوی د خدای په لار کښې کله وژل کیږی او کله مړی هغوی. د خدای وعده رښتیا ده په توراة، انجیل او قرآن کی.

له پورتنۍ مبارک آیت څخه معلومیږي چه خدای تعالی له مجاهدینو سره اخیستل او پلورل کړی دي او د مجاهدینو د مال او نفس په مقابل کښې خدای (ج) جنت ورته ببښلی دی.

اوس باید پوه شوچه کوم پلورل او اخیستل له دې پلورلو او اخیستلو نه ګټور دی چه د خدای (ج) سره شوی دي هیڅکله ندي شوي.

---

(۱) سورة التوبة. آیة ۱۱۱

له دی نه بد کوم سبنه وخت وي چه خوشحاله شي او په خپل
نصیب وناز یږي. ځکه خدای تعالیٰ د هغوی اخیستونکی وی
مونږ له خپل لوی خدای نه غواړو چه مونږ بی وزله بندګان
د دغو مؤمنو مجاهدینو له جملی څخه د قیامت په ورځ وشمیري.

د مجاهد صفتونه

۱ـ مجاهد د کلکی اسلامی عقیدې خاوند وي.

۲ـ د مجاهد نیت یوازې د خدای (ج) د رضا حاصلول وي.

۳ـ مجاهد کلک، قوي اراده اوباور په خدای (ج) ولري.

۴ـ د مجاهد دوستي اود سمني دنور وسره د خدای (ج) لپاره وي حدیث شریف سره سم:

اَفْضَلُ الْاَعْمَالِ اَلْحُبُّ فِي اللهِ وَالْبُغْضُ فِي اللهِ

وي.

۵ـ مجاهد د مصیبتونو اوسختیو په مخ کیدو سره باید صبر، کلکوالی اوحوصله ولري.

۶ـ مجاهد دې هر وخت د خدای (ج) نه وسپاري اوجهاد وکړي د تکلیف اوزحمت په وخت کښې نا امیده نشي اود جهاد د احکامو څخه خبر وي.

۷ـ مجاهد باید خلک خپل خواخوږي اومرستندوی وګرزوي او هغوی د اسلامي هدف نوخواته لارښونه اوسمبال کړي.

درسی کتابونه او د هغو محتویات د منل شوی تعلیمی اصولو
پر اساس تهیه او تطبیق کړی. اوس چه دلوی خدای په فضل
د لمړی دوری د کتابونو چاپ او ترتیبول پای ته رسید لی او
د خدای پاک په مرسته منځنی او دوهمه مرحله شروع شویده
بیایی هم خپله علمی دنده دیوه غوره تعلیمی پروګرام په برابر-
ولوکی چه د ټولو تعلیمی بنسټونو او علمی موازینو سره برابروی
نده هیره کړی. او دپخوا په شان ئی د درسی کتابونو په برابرولو
او تدوین کی د نورو مختلفو جهادی تنظیمونو د پروګرامونو
څخه په استفادی سره زیاته پاملرنه کړیده.
د افغانستان تعلیمی مرکز خپله دنده بولی چه د نصاب مدیریت
له هغو استادانو، پوهانو او کارکونکو څخه چه دیوه اسلامی
واحد تعلیمی نصاب د منځ ته راوړلو په برخه کی چه له علمی
موازینو سره سمون لری له هیڅ ډول ایثار او سرښندنی څخه
ډډه نده کړی منه او درناوی وکړی، او د دوی لازیات
بریالیتوبونه د علم او معارف په برخه کی له پاک خدای څخه
وغواړی.
هیله لرو دهیواد راتلونکی او حُوان نسل د قدروړو مدرسینو
دعلمی لارښوونی په نتیجه کی تری زیاته گټه واخلی، تر څو دیوه

نوی افغانستان د پاره چه یو اسلامی، خپلواک اوپرمخ تللی
افغانستان به وی رښتینی او ګټورغړی وروزل شی.

ومن الله التوفیق

د افغانستان تعلیمی مرکز

بسم الله الرحمن الرحيم

فهرست او مطلبونه

عنوان	مخ
لمړی فصل .	
۱- د جهاد د ولونه .	۱
۲- لساني جهاد .	۲
۳- ځاني جهاد .	۴
۴- مالی جهاد .	۵
۵- د جهاد فضیلت .	۷
۶- د مجاهدینو صفتونه .	۹
۷- د عملیاتو لپاره اصلی هدفونه .	۱۱
۸- د چریکي جګړې خواصونه .	۱۲
۹- د مرکز بنودل اوډهغه صفتونه .	۱۳
۱۰- د مجاهدینو د مرکزونو ولونه .	۱۶

دوهم فصل

عنوان	مخ
۱۱ـ د نظام تعریف .	۱۹
۱۲ـ د اراضی (حُمله) تعریف .	۲۲
۱۳ـ معلوم داري تکی .	۲۵
۱۴ـ لیدل .	۲۷
۱۵ـ پروت .	۲۹
۱۶ـ پیغام ورونکی .	۳۳
۱۷ـ اور .	۳۶
۱۸ـ کارکول دیو مجاهد قوماندان پخواله نژدی کیدو دعملیات څخه .	۳۸

دریم فصل

۱۹ـ تي تي تفنګچه (T.T)	۴۱
۲۰ـ میکاروف تفنګچه (M-T)	۴۳

عنوان	مخ
۲۱- کارابین توپک .	۴۵
۲۲- (۳۰۳) بور توپک .	۴۷
۲۳- M-1 دوربین لرونکی توپک .	۴۹
۲۴- S.K.S - لس دزې توپک .	۵۲
۲۵- G.R - یولس دزې توپک .	۵۵
څلورم فصل :	
۲۶- POMZ - توتې نۍ دپرسونل ضدمین .	۵۸
۲۷- PFM - 15 - دپرسونل ضد مین .	۶۰
۲۸- پلاستیکی دپرسونل ضد مین .	۶۱
۲۹- توپې نلرونکی دپرسونل ضدمین .	۶۲
۳۰- POM 25 - دپرسونل ضد مین .	۶۳
۳۱- MON 200 - شارت کوونکی ضد مین .	۶۵
۳۲- MON 100 - دپرسونل ضد مین .	۶۶

عنوان صفحہ

۳۳ - pamom - دتانگلونواوعرابه لرونکی ۶۷

صندمین .

د افغانستان اسلامي دولت

د لښونې او روزنې وزارت

د افغانستان تعليمي مرکز

د نصابونو مديريت

جهادي روزنه

د اتمې ټولګي لپاره

لیکونکي او ژباړونکي: لمړي بريد من محمد رسول «رحيمي»

کال: ۱۳۶۹ هـ.ش


لا إله إلا الله محمد رسول الله

جهادی روزنه

داتم ټولګی لپاره

لیکونکی اوژباړونکی: لمړی بریدمن محمد رسول «رحیمی»

کال: ۱۳۶۹ هـ. ش

بسم الله الرحمن الرحيم

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

رَبِّ زِدۡنِی عِلۡمًا

قَالَ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَسَلَّمَ

حضرت رسول اکرم صلی اللہ علیہ وسلم فرمائیلے دی.

رَضِیۡتُ

خوښ یم

بِاللّٰہِ رَبًّا

چې الله مورب دی.

وَبِالۡاِسۡلَامِ دِیۡنًا

او اسلام مو دین دی.

وَبِمُحَمَّدٍ نَّبِیًّا وَّرَسُوۡلًا

او محمد صلی اللہ علیہ وسلم مو رسول او نبی دی.

بسم الله الرحمٰن الرحیم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ خَلَقَ الْاِنْسَانَ وَجَعَلَهُ اَکْرَمَ الْخَلَائِقِ بِالْعِلْمِ وَالْکَرَمِ وَجَعَلَ اُمَّةَ مُحَمَّدٍ خَیْرَ الْاُمَمِ وَاَمَرَهُمْ بِالدَّعْوَةِ وَالْاِرْشَادِ وَالْجِهَادِ الْمُعَظَّمِ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْاَنْبِیَاءِ وَمُعَلِّمِ الْبَشَرِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِیْنَ۔

په هیواد کی د سپیڅلی جهاد د پیل څخه را پدیخوا، استادانو، علماؤ او پوهانو، د شاګردانو د علمی اهدافو د تر سره کیدو او د اسلامی فرهنګ د ودی او پراختیا د پاره په مختلفو برخو کی او د پوهی له بنیګنو څخه د بنی ګټی اخیستنی پخاطر کالکه پاملرنه کړیده، او په دی توګه ئی د مهاجرت د ناخوالو او بدو شرایطو سره سره د اخبره نړیوالو ته ثابته کړه چه د افغانستان غیور او قهرمان ملت وکولای شول د جهاد په تیرویو و لسو کلو کی د توری او قلم مبارزی ته یو دبل تر څنګه ادامه ورکړی۔ د افغانستان تعلیمی مرکز چه د مختلفو د رنو جهادی تنظیمونو له پیاوړو غړو څخه تشکیل شو ید ی په خپل وار سره هڅه کړی تر څو په هیواد کی د ننه د مدارسو د رسی پروګرامونه له ورځنیو شرایطو او علمی معیارونو سره سم ترتیب او د لړی دوری